# د افغانستان پر شفافیت د څار اداره
# د اپریل میاشتې خبرپاڼه

*پولسمه دوره: څلورمه شمیره*
*2011/4/24*

سرلیکونه:

- اصنافو ته جواز ورکولو په پروسه کې لاېډر اصلاحات.
- د افغانستان پر شفافیت د څار اداره پر عامه خدمتونو د څار پروسه د روغتیایي خدمتونو سکټور ته هم غځوي.
- د ولایتي څار بوردونه د سیمه ییز نظارت رکن ته ورپېژندل شوي دي.
- په بامیانو کې دهغو سیمییزو ټولنو د غړیو خبرې، چې د قضایي فساد تر اغیزې لاندې واقع شوي دي.

"زه به یو شمیر زړوري ښځې پیدا کړم"

د بامیانو ولایت د سیمه ییز ټولنو یوه غړې، چې ژمنه یې کړې په سیمه ییز محکمو به د څار له پروګرام څخه ملاتړ کوي..



د سیمییز کتونکو«ناظرینو» روزنه



**د لوست په خونو کې څنګه ګونه او نه تجهیز د افغان ماشومانو ورځنۍ ستونزې دي.**

## عامه خدمتونه- اصنافو ته د جواز ورکولو په پروسه کې لاېډر اصلاحات

اصنافو ته د جواز ورکولو نوی موډل به د څار عالي اداراې له لوري په مۍ میاشت کې پلی شي.

دغه اصلاحات وروسته له هغې مطرح شول، چې د څار عالي اداري د افغانستان پر شفافیت د څار له اداري او کابل ښاروالۍ سره مشوره وکړه. د افغانستان پر شفافیت د څار اداري سپارښتنه وکړه چې اصنافو ته د جواز ورکولو پروسه ساده شي او وړاندیز یې وکړ چې د جواز غوښتونکو او دولتي کارکوونکو ترمنځ د تعامل کچه راټیټه او همدارنګه د جواز اخستلو وخت هم راکم کړل شي.

د څار عالي اداري د خدماتو وړاندي کولو د نوي موډل د تنظیم په برخه کې د افغانستان پر شفافیت د څار اداري ډېرې وړاندیزونه ومنل.

د افغانستان پر شفافیت د څار اداره پلان لري، چې د وروستیو مصرفونکو د رضایت پر کچه د دغو اصلاحاتو د اغېز سنجونې لپاره یو لړ سروې ګاني پلي کړي.

دغه اصلاحات د هغو نورو اصلاحاتو تر څنګ پلي کیږي، چې له دې وړاندې سوداګرو ته د جواز ورکولو په پروسه کې د غوره توب د څرګنوالي په هکله د څار د عالي اداري له لوري د افغانستان پر بشپړتیا د څار اداري له کتنې وروسته وړاندې شول.

## سیمییزه څارنه – د بنسټیزو پروژو لپاره د نویو کتونکو روزنه

د سیمه ییزه څارنې رکن هرات، پروان، ننګرهار او بلخ ولایتونو ته د پراختیا په حال کې دی. سیمیزه ټولنو کابو ۱۲۰ نوي سیمییز څارونکي ټاکلي دي. د دغو کسانو ترمنځ ۵۰ تنه د هرات ولایت د انجیل ولسوالۍ له ۳۰ بیلابیلو سیمییزه ټولنو څخه ټاکل شوي چې تر دې دمه یې زده کړې ترلاسه کړې او په اړوندو پروژو یې د څارنې کار پیل کړی دی. د ننګرهار، پروان او بلخ ولایتونو پاتې نور کتونکي به د اپرېل میاشتې تر وروستیو روزنه ترلاسه کړي او سر دلاسه به خپل کار پیل کړي.

د نویو کتنو له زیاتوالي سره به د سیمه ییزه څار رکن په بیلابیلو سکټورونو لکه ښوونځیو، سړکونو، برېښنا، اوبو، د پولیسو د حوزو او روغتیایي کلینیکونو په برخه کې کابو ۸۰ بنسټیزې پروژې د ۱۶۰ تنو کتونکو له لارې تر څارنې لاندې ونیسي. د دغو پروژو ډېره برخه ښونځي او سړکونه جوړوي. تمه کیږي چې د روان کال تر پایه به ۲۰۰ بنسټیزې پروژې وڅارل شي.



د پروان ولایت په بګرام ولسوالی کې د ۹۵ پولیس افسرانو لپاره ۲۵ خونې. د سرچینو محدودیت د عامه خدمتونو پر کیفیت اغیزه کوي.

## عامه خدمتونه- له عامه خدمتونو څخه روغتیایي خدمتونو ته د څارنې پراختیا، او د څارنې له عالي اداري سره د تړون لاسلیکول

د افغانستان پر شفافیت د څار اداري روغتیایي برخي ته د خپلو خدمتونو د غځولو لپاره د عامي روغتیا له وزارت سره په خبرواترو بوخته ده. دغه خبري د روغتیایي خدمتونو د چمتو کولو په برخه کي د دي وزارت له مرستیال سره ترسره شوي.

د عامي روغتیا مرستیال وزیر د افغانستان پر شفافیت د څار اداري ته اجازه ورکړه چي د عامي روغتیا وزارت د پروسو د ساده کولو څارنیز پروګرام پیل کړي. د عامي روغتیا وزارت او د افغانستان پر شفافیت د څار اداره به په ګډه توګه د پام وړ ستراتیژۍ په هکله پريکړه وکړي.

زموږ د کار تمرکز به د روغتیایي خدماتو د وړاندي کوني پر سکټور وي، څو دغه سکټور هم دهغو سکټورونو له ځانګړتیاوو څخه برخمن شي چي دغه رکن په کي فعالیت کوي: ( د خدمتونو وړاندي کولو ساده کول او د فساد د فرصتونو کمول)

په دي وروستیو کي د افغانستان پر شفافیت د څار اداري او د څار عالي اداري د خپل منځي مرستو اوهمغږۍ په هکله خبري کړي دي. د دغو خبرو پایله د یوه پوهیدنی تړون لاسلیکول و. خبري اتري لاهم دوام لري او تمه کیږي، چي دغه لړۍ به په راتلونکي کي وروستۍ شي.

## د سپړل شویو صنایعو د شفافیت د نړیوال نوښت وروستني پرمختګونه

د افغانستان پر شفافیت د څار اداري کارکوونکو په یوه دري ورځني غونډی کي ګډون وکړ. په دغه غونډه کي د راپور ورکوني د هغو جوړښتونو په هکله روزنه ورکول کیده چي په دغه سکټور کي د تولید شویو عوایدو د ښکاره کولو لپاره په یاد شوي نوښت کي کارول شوي و.

دغه روزنیز پروګرام د هغه ډلي ونډه اخستونکو لپاره ترسره شو چي په افغانستان کي د سپړل شویو صنایعو د شفافیت د نړیوال نوښت د پروسي پر تطبیق د څار مسؤلیت یي پر غاړه و. په دغه روزنیز پروګرام کي د دولت، مدني ټولني او خصوصي سکټور کابو ۲۰ تنو ګډون درلود.

د سپړل شویو صنایعو د شفافیت د نړیوال نوښت نړیوال سکرتریت د نړیوال بانک په مرسته دغه پروګرام ته له قرغزستان او مغولستان څخه هم میلمانه وربللي و. دغو میلمنو د یادي پروسي د پلي کولو په برخه کي خپلي تجربي او زده کړي له ګډونوالو سره شریکي کړي. د دغو تجربو له شریکولو سره ډیر څه زده شول او په افغانستان کي د دغي پروسي د پلي کوني په برخه کي یو لړ اندونه یا مفکوري وړاندي شوي.

د افغانستان پر بشپړتیا د څار اداري همدارنګه د دغه نوښت د مرستي په غرض د سپړل شویو صنایعو د رکن لپاره نوي کدرونه هم په کار وګمارل. نجیب الله « زیار » د ۲۰۱۱ کال د اپریل په ۱۸ نیټه د سپړل شویو صنایعو د نړیوال نوښت د مدیر په توګه د افغانستان پر شفافیت د څار اداري سره یوځای شو.



AEITI Afghanistan Extractive Industries Transparency Initiative

Input Reporting Template – for Revenue Department, Ministry of Finance

Reporting Period: ____________

Reference Number: ____________

| | |
|---|---|
| **Company Name:** | |
| Company Identification Code: | |
| Location: | |
| Type of Extraction: | |

**Exchange Rate: US$ 1 = AFs xx**

| **Total Amount Paid** | **In Kind** | | | **In Cash** | |
|---|---|---|---|---|---|
| | Volume | Value | | | |
| | | US$ | AFs | US$ | AFs |
| | | | | | |

| **Type of Payment** | **Object Code** | **In Kind** | | | **In Cash** | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | Volume | Value | | | |
| | | | US$ | AFs | US$ | AFs |
| Net Profit Tax | 0410 | | | | | |
| Royalty | 0510 | | | | | |
| Land Fee | 0511 | | | | | |
| Rental Fee | 0512 | | | | | |
| License Fee | 0513 | | | | | |
| Permitting Fee | 0514 | | | | | |
| Penalty | 0515 | | | | | |
| Dividends | 0516 | | | | | |
| | | | | | | |

| **Other Payment which is not specified above** | **In Kind** | | | **In Cash** | |
|---|---|---|---|---|---|
| | Volume | Value | | | |
| | | US$ | AFs | US$ | AFs |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

**The Government Sign Off**
We acknowledge our responsibility for the fair presentation of the Reporting Template in accordance with the AEITI Reporting Guidelines

Name Signature

Position Date

Official Stamp

DRAFT

چهارچوب گزارش دهی ابتکار جهانی شفافیت صنایع استخراجی حکومت افغانستان

د افغانستان پر شفافیت د څار اداره

**پته:**
61 کور، د قوماندان ګدا کوڅه، د
شاروالی بلاکونو ته مخامخ، کلوله
پشته، کابل، افغانستان

**تلفون:**
+93786206937
+93785430765

***برېښنا لیک:***
info@iwaweb.org

***ویب پاڼه:***
www.iwaweb.org

***د فیس بوک او تیوټر له لاري مونږ سره اووسئ***

## ولایتی نظارتی بودونه د سیمییز څار رکن ته وروپیژندل شول

د ۲۰۱۱ کال په مارچ میاشت کې د سیمییز څار رکن د ولایتي څار بورډونه هغو څلورو ولایتونو ته ور وپیژندل شول چې په کې فعالیت کوي. له دې کار څخه موخه تر څارنې لاندې پروژو کې تخنیکي ستونزو او کیفیت ته رسیدنه ده.
د محلي څار ډلې له مسؤلو دولتي څانګو لکه (پوهنې، عامې روغتیا، اقتصاد، ولایتي شورا، ښاروالۍ او د والي له دفتر) څخه جوړ شوي دي او هغه د دې لپاره غونډه کوي چې د پروژو تخنیکي ستونزې حل کړي.

## د افغانستان مدني ټولنه او غوره حکومت داري

د مدني ټولني غړی د اپریل په میاشت کې د حساب ورکوني او حکومت داری د لوړتیا په برخه کې د مدني ټولني پر رول د خبرو لپاره سره راټول شول. په دغه غونډه کې معلوماتو ته د لاس رسي مسایل، د بودیجي تطبیق او د خلکو استازیتوب د هغو کلیدي او مهمو برخو په توګه مطرح شول چې کولای شي په افغانستان کې د حساب ورکوني د کچې له لوړتیا سره مرسته وکړي.
د دغي غونډی په اوږدو کې د سپړل شویو صنایعو او مدني ټولني په شمول داسي بیلګې وړاندې شوې چې مدني ټولنه څنګه کولای شي دا ډول مسایلو ته لاس رسي پیداکړي. دغه ډلې پریکړه وکړه چې د اړتیا په صورت کې به په دې هکله غونډه وکړي او د مدني ټولني له تشکیلاتو به د هغوی د فعالیتونو او لاس رسی کچې د ښه والي په برخه کې ملاتړ وکړي.

## اړونده څېړنه (case study)

د افغانستان پر شفافیت د څار اداره به په ۲۰۱۱ کال د مدني هڅو او خلکو د ګډون اړوند څو ډول څېړني مستندي کړي. له دې کار څخه موخه د مدني ټولني او خلکو ترمنځ د سوله ایزو مدني هڅو تشویق او دود کول ده.
معلوماتو ته د لاس رسي او مرستو د اغېزمن تیا په هکله اړوندي څېړني(case study) به په راتلونکو دوو میاشتو کې د لوستونکو په واک کې ورکړل شي. نور هغه څه، چې په دې کال به تر پوښښ لاندې ونیول شي، عبارت دي له:

- فساد او عامه خدمتونه
- د خلکو کړنی او سیمییز حکومت داري
- له فساد سره د مبارزې ټولنې
- د سپړل شوي صنایعو شفافیت
- د کانونو د سپړلو ټولنیزه پالیسي

د لاډېر معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسی!

## د خلکو غږ: قضايي حساب ورکونه – د رشوت غوښتونکي سربښندنه

زما کوربه چې په نقريي تار ښکلی شوی ګلابي پړونی یې پر سر و، زه خپل صالون ته ور وبللم. کور یې مخکینی ور نه درلود او له خامو خښتو جوړ شوی و. د کوټې په کونج کې تو له شوي بستره لیدل کیږي. یواځې څو شیبې کیږي چې زه ناست یم چې د هغه له باميانو محاکمو څخه د خپلو خاطرو نکل کوي. راته یې وویل، چې ۱۸ یا ۱۹ کلن زوی یې د ناسم عاشقانه اړیکي د لرلو په تور زندان ته لوېدلی. دې وویل زوی یې یوازې له دې امله په زندان کې دی چې د
جلکی فامیل سیمییز قاضي ته رشوت ورکړی. کله مې چې له هغه څخه پوښتنه وکړه څنګه پوه شوه چې د جلکی کورنی قاضي ته رشوت ورکړی؟ وی ویل: «ځکه، چې قاضي له مانه رشوت غوښتي و او ماهم ورته ورکړ. خو څرنګه چې د جلکی کورنی د ما په نسبت قاضي ته ډېر رشوت ورکړی و، اوس مې زوی زنداني دی.»
هغي قاضي ته یې کابو ۳۰۰۰ ډالر رشوت ورکړی و. هغه پیسی یې هم له فامیل او دوستانو څخه پور کړي وې او اوس یې د بیرته ورکولو وس نه درلود. آن تردې چې څارنوال او پولیسو هم ترې رشوت غوښتی و. د پولیسو یوه افسر ورڅخه د ټیلفون کارت غوښتی و.
ښځي په ژړا پیل وکړ، په داسي حال کې، چې اوښکې یې د پړوني پر پیڅکه پاکولې، قسم یې پورته کړ، چې داسي زړه وره ښځې به پیدا کړي چې په خپله خوښه په محاکمو باندي د څارني په پروژه کې کار وکړي.
همدارنګه هغي وويل، چې که څه د زوی لپاره یې، چې د درې کلن زندان نیمه دوره یې تیره کړې، ناوخته ده، خو هیله منده یم چې سیمییز څارونکي به پرې نږدې چې نورې کورنی به له دې ډول برخلیک سره مخ شي.